محب‌الله زغم ۲۰۲۳/۰۵/۲۲

د ماشومانو د ناروغیو پر کتاب باندې سریزه

ډېر خوښ یم چې د ډاکټر صاحب خیرالله خیال له برکته نن یو بل طبي کتاب هم په پښتو کې لرو. د علمي کتابونو ژباړه، په تېره بیا روانه او دقیقه ژباړه یې، آسانه کار نه دی. دا کار ډېره خواري او زیات زحمت غواړي. د ډاکټر خیال دې کور ودان وي او خدای دې اجرونه ورکړي. د دې کتاب په اړه دوې خبرې مهمې دي. یوه دا چې د ژباړې لپاره ولې دا کتاب غوره شوی دی او بله دا چې کتاب څنګه ژباړل شوی دی.
ډاکټر صاحب خیرالله خیال به د خپل انتخاب لپاره خامخا خپل دلیلونه ولري. کله چې ما او زما ملګرو د انعام دانش کتاب پښتو ته وژباړه، ځینو نیوکه وکړه چې ولې مو کوم نړیوال معیاري کتاب ونه ژباړه. دا ډېره ښه خبره ده چې د هریسن او ډېوېډسن په شان معیاري کتابونه وژباړو، خو زما په نظر زموږ د سیمې (هندوستان او پاکستان) د مؤلفانو طبي کتابونه د نورو ښېګڼو تر څنګ، په دې ښه دي چې د سیمې پتالوژي رانغاړي یعنې د ناروغیو هغه ډولونه چې زموږ د هېواد په ګډون، زموږ په سیمه کې ډېر دي. له بلې خوا د ځینو ناروغیو درملنه په مختلفو سیمو کې متفاوته وي، مثلاً په امریکا کې به محرقه په امپیسیلن سره علاج شي، خو په افغانستان کې به ان د سفټریاکسون په مقابل کې هم مقاومت ولري، نو د سیمې د ډاکټرانو عملي تجربې زموږ په هېواد کې هم په کارېږي. همدارنګه، څومره چې ما ته معلومه ده، د هند او پاکستان اکثره ډاکټران طبي کتابونه داسې لیکي چې په عملي طبابت کې ښه کاربدلی شي، یعنې پر تیوري ډېر تمرکز نه کوي او د ناروغیو د پتوفیزیولوژي میکانیزمونه په ډېر تفصیل سره نه څېړي، بلکې کلینیکي ټکي یعنې د ناروغیو د تشخیص او درملنې په اړه معلومات په کې زیات وي.
دوهمه خبره دا چې ډاکټر صاحب خیرالله خیال دا کتاب څنګه ژباړلی دی. ما چې د کتاب د څو برخو څو پاڼې وکتلې، ژبه یې روانه، خوږه، او نسبتاً معیاري ده. هڅه شوې ده چې زموږ د طبابت رایج اصطلاحات چې عمدتاً عربي دي، وکارول شي.
ما د ژباړې ځینې برخې له انګلیسي متن سره پرتله کړې. ژباړه یې تر ډېره بریده دقیقه شوې ده او د امانتدارۍ اصل په کې مراعات شوی دی. همدارنګه ژباړونکي هڅه کړې ده چې په ژباړه کې د پښتو ژبې د جملو جوړښت ته پام وکړي او له تحت اللفظي ترجمې څخه یې ډډه کړې ده.
په دې کتاب کې مې ځینې نوي اصطلاحات تر سترګو شول چې ښایي د ژباړونکي خپل نوښت وي، مثلاً: **«د زړه عدم کفایه/ Heart Failure»** یې **«د زړه بې وسي»** لیکلې ده او د **«انزار/ Prognosis»** پر ځای یې **«اټکلي تګلورۍ»** لیکلې دی چې دواړه زما په نظر مناسب، دقیق او ښایسته اصطلاحات دي. البته ځینې نور نوي اصطلاحات یې ډېر مناسب نه دي، لکه: د «اختلاطات» پر ځای «پېچلتیاوې»، د «حاد» پر ځای «بېړنی» او د « Blood Count» پر ځای «د وینې شمېرنه». بېړنی د عاجل یا ایمرجنسي معنا لري خو د حاد/ Acute تعریف بل شی دی. همدارنګه د وینې شمېرنه د «Blood Count» ټکي په ټکي ترجمه ده، خو په پښتو کې بیا هغه معنا نه لري چې په انګلیسي کې یې لري. که د دې پر ځای «د وینې د حجرو شمېرنه» ولیکو، بهتره به وي.
په ځینو جملو کې د فارسي جملو اغېزه ښکاري، لکه دا:
هغه فکتورونه، چې پر نس ناسته د اخته کېدو پر وړاندې حساسوالی زیاتوي عبارت دي له:

- **د مور د شیدو په واسطه د ماشوم نه تغذیه کول.**

دا جملې داسې لیکلی شو:
هغه فکتورونه چې پر نس ناستې د اخته کېدو احتمال زیاتوي، دا دي:

- ماشوم د مور په شیدو نه تغذیه کول.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په خیر و لولئ

او دا بله جمله **«رغېدنه هله رامنځته کېږي، چې د میوکوزا سطحه بېرته جوړه شي.»** به داسي بهتره وي: ... هله رغېږي چې د مخاطي غشا سطحه بېرته جوړه شي.

په ژباړه کې ډېره امانتداري کله کله ستونزه جوړوي، لکه دغه جمله: **«یو ۲ کلن هلک د ساه اخیستلو پر مهال د ځانګړي ځیږ تنفسي غږ، د سیني د دېوال د جوتي ننوتلتیا، د پوزې د دېوالونو د پورته ، پورته الوتلو، barking cough او د اواز د خپوالي سره مراجعه کړې.»**

دا جمله که داسي شي، لا به ښه شي: یو ۲ کلن هلک یې راوړی و چې په شهیق کې یې ځیږ غږ اورېدل کېده، د سیني دېوال یې جوت ننوتلی و، د پوزې دېوالونه یې پورته پورته غورځېدل، ...

په ځینو ځایونو کې د پښتو متن په منځ کې انګلیسي کلمې ډېرې راغلي دي، لکه: د croup اصطلاح د تنفسي سیستم د هغه زجرت لپاره کارېږي، چې په کې د larynx ساحې، trachea او bronchi د بندش له امله په ناروغ کې شهیقي stridor (یو ځانګړی ځیږ تنفسي غږ) ، توخی (barking like or brassy) او hoarseness (د اواز خپوالی یا کېناستل) رامنځته کېږي.

که په همدې جمله کې د larynx ، trachea او bronchi پر ځای حنجره، شزن، او قصبات ولیکو، دا ستونزه به کمه شي.

البته دغه ستونزې ډېرې غټې نه دي، خو یادې مې ځکه کړې چې هم ډاکټر خیال او هم نور ژباړونکي ورته پام وکړي او راتلونکي کارونه یې لا ښه شي. د ډاکټر صاحب خیرالله خیال کار ډېر لوی او د ستاینې دی. پښتو ژبه به د همداسي تکړه، با احساسه او خواخوږ ځوانانو په هلو ځلو بډایه کېږي او غوړېږي به.

په مینه او درنښت

ډاکټر محب الله زغم

۳۱/ ۸/ ۲۰۲۰

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ